# <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

## د حسینې تش په نامه چاڼیز عملیات د هېڅ درد درملنه نشي کولی او یوازې خپل ناوړه تصویر پر پاکوي

## که غواړئ بنګله دیش له فساد څخه وژغورئ، نو د حسینې پر ضد د راشده خلافت د تاسیس له هڅو سره یو ځای شئ

شیخ حسینه د خپل حکومت د پرمختګ او د ګوند د ناوړه تصویر په پاکولو سره، په خپل ګوند کې د ننه د فساد پر وړاندې تش په نامه ګډوډ تصفیوي عملیات پیل کړل، چې یوه بېلګه يې د ډاکه ښار په سپورټي کلپونو کې د ناقانونه قمارخونو پر ضد ګام اخیستل وو. د جوبا لیګ (د حاکم عوامي لیګ د خویندو سازمان) څو مشران له ناقانونه قمارخانو سره د سوداګرۍ په تړاو ونیول شول.

دا ګامونه هغه وخت پورته شول، چې فساد د حکومت بېلا بېلې پروژې له ماتې سره مخ کړې:

- د برېښنا په یوه فابریکه کې د هر بالښت بیه ٦ زره تاکا ده.
- په یو دولتي روغتون کې د ICU د هر تخت پوښ بیه ۳.۷۵ میلیونه تاکا ده.
- د کاغذونو د هر ډبلي بیه ۱۰۰ زره تاکا ده.
- د ریل ګاډي د پټلۍ په یوه پروژه کې د هرې تختې بیه ۵۰۰ زره تاکا ده.
- د هر مهر لاک بیه ۳۰۰ زره تاکا ده.
- د یوه کلینر تنخوا ۴۰۰ زره تاکا ده.

له شک پرته، د حسینې تش په نامه پرمختیایي پروژې له چور او چپاول پرته بل څه نه دي. دا ټولو ته ښکاره ده چې د دې د ډلې ټول کسان په ژور فساد کې ښکېل دي. د خلکو غوسه او خپګان د اور په څېر لمبې وهي. په داسې وضعیت کې حسینه غواړي د ډرامې په څېر د فساد پر وړاندې ودرېږي، څو خپل فساد پټ او خلک دوکه کړي. د خویندو سازمان حاکم ګوند یو څو مشران د ورانکارو پرازیټونو په توګه یاد شوي، په دې سره به حسینه له خپلې ناوړه واکمنۍ ښښنه وغواړي، خپل ناوړه تصویر به پاک کړي او د همدې ډرامې هېرو (اتله) به شي.

**اې مسلمانانو!** د حسینې په څېر دوکه ورکوونکې واکمنې څخه غوره تمه کېدای شي؟ پلار یې هم، چې ځان د «امت پلار» بولي، د خپل مفسد تصویر د پاکولو لپاره یې همداسې پر خلکو تورونه لګول: «د هېواد له خپلواکۍ وروسته هر څوک د طلا کان تر لاسه کوي، په داسې حال کې چې ما د غلو کان تر لاسه کړ!! زما په ښي اړخ کې غله، په چپ اړخ کې غله، په شا کې غله، په مخکې غله، غله او غله...!!» د خپلواکۍ تر جګړې وروسته د وچکالۍ په لړ کې د ده دوه زامنو ودونه وکړل او د طلا تاجونه یې پر سر کړي وو، په داسې حال کې چې زرګونه وګړي له لوږې مړه کېدل!

ایا پرازیټونه او مزدوران به د تش په نامه سېکولر ډیموکراټیکې واکمنۍ لاندې وده ونه کړي؟ ایا فساد، ګډوډي، مخدره توکي او قمار خونې به د سیکولر ډیموکراټیکې واکمنۍ لاندې پراختیا ونه مومي؟ سېکولر نظام، چارواکو ته اجازه ورکوي چې د الله سبحانه وتعالی د حکم پر ځای له خپل صلاحیت څخه په قانوني توګه ګټه واخلي، چې په پایله کې یې مفسد او حریص کسان سیاست ته رادانګي. یاد کسان بیا قانون ته مشروعیت وروبښي، خپلې ګټې او شتمنۍ د زور په وسیله ساتي لکه، له پارلمان څخه په ګټې اخیستنې سره پټ پورونه او د بانکي غلو ګټې خوندي کوي. دغه ستر قدرت د یوې سترې ونې په څېر شاوخوا ساحه تر خپل کنټرول لاندې راولي، چې پرازیټي ډلې ترې لاندې د خوندي کېدو ځای مومي او وده کوي. موږ اړتیا وینو چې حسینه او د هغې د قدرت سرچینې لکه، سېکولر ډیموکراټیک نظام باید له منځه لاړ شي، ځکه په دې سره به فساد او ګډوډۍ ختمې او د فحشا او منکر مخه به ونیول شي. الله سبحانه وتعالی د حسینې په څېر چارواکو په اړه فرمایي:

**﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ﴾**

[المائده: ۴۵]

***ژباړه:*** *هر هغه کسان چې د الله سبحانه وتعالی له نازل کړي قانون سره سمه پرېکړه ونه کړي، ظالمان دي.*

**اې مسلمانانو!** یوازې خلافت دغه فساد له منځه وړلی شي. په خلافت کې، خلیفه قوانین نشي جوړولی او شریعت له وړاندې ښودلې چې دولت څه ډول خپلې سرچینې راټولې او وسپمولی شي. مانا دا چې په هغه حالت کې به مفسد کسان نه غواړي چې قدرت ته راشي، ځکه په اسلام کې چارواکي قوانین نه شي جوړولی، بلکې دوی یوازې هغه قوانین کوي، چې مخکې په قران او سنتو کې بیان شوي دي. دویم، اسلام امر کوي چې د چارواکو شتمنۍ

باید قدرت ته له رسېدو او پرېښودو وړاندې معلومې وي. که چېرې د چارواکو مال په نامنظم ډول ډېر شي، هغه ترې اخیستل کېږي او بیت المال (د دولت خزانه) ته سپارل کېږي. د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د خلافت پرمهال به چې هغه والیان گومارل، نو پر دنده له گومارلو او گوښه کولو وړاندې به یې د هغوی شتمنۍ اندازه کولې؛ که ډېره شوې شتمني به یې ترې اخیسته او د دولت خزانې ته به یې سپارله. د خلافت دولت تر ۱۴۰۰ کلنې واکمنۍ لاندې دا ډول ډېرې بېلگې موندلی شئ.

**نو، اې مسلمانانو!** پام مو وي، چې نور مو باید اوسني مفسد نظامونه دوکه نه کړي او خپله موخه باید یوازې د راشده خلافت تاسیس وگرځوئ. په دې سره به د نړۍ له نورو مسلمانانو سره یو ځای بنگله دېش هم له فساد څخه وژغورئ او د نبوت پر اساس د راشده خلافت د تاسیس لپاره له هغو سیاسي هڅو سره یو ځای شئ، چې مشري یې حزب التحریر پر غاړه لري.

الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا﴾

[الاسراء: ۸۱]

***ژباړه:*** *او اعلان وکړه چې؛ حق راغی او باطل له منځه لاړ، په رښتیا هم چې باطل له منځه تلونکی دی.*

**د حزب التحریر-ولایه بنگله دیش مطبوعاتي دفتر**

**د صدور گڼه: ۲/۱۴۴۱**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د محرم ۲۸مه**

**۲۰۱۹م کال، د سپټمبر ۲۷مه**